# مسیر ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د جنوري دویمه | دویم کال| ۳۱۱مه ګڼه


کتاب

۴ مخ

## د هوسا ژوند ۳۰ رازونه




## د ټاکنو پر ځنډ غبرګونونه؛
# د ۱۳۹۸ کال تر جوزا وروسته اوسنی حکومت مشروعیت نه لري



۳

## ننګرهار کې د کرنیزو پروژو د پلي کېدو تړونونه لاسلیک شول




کرنې وزارت د ننګرهار له ولایتي ادارې سره د دغه ولایت د کروندګرو د اقتصادي پیاوړتیا په موخه، د نږدې ۹۸ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۷۵ شنو خونو، یو سربند او مرغدارۍ د دریو پروژو تړونونه لاسلیک کړل.

د کرنې وزیر نصیر احمد دراني د یادو پروژو په پرانیست غونډه کې وویل، په دغه ولایت کې د اوبو سربند، شنو خونو او مرغدارۍ په برخو کې د ۹۷ میلیونو، ۸۵۱ زرو او ۲۴۷ افغانیو په لګښت پروژې تطبیق کېږي چې زرګونه کورنۍ به ترې ګټه پورته کړي.

د نوموړي په خبره، د دغو پروژو له تطبیق وروسته به د ننګرهار د ځینو ولسوالیو زرګونه کورنۍ په مستقیم او غیر مستقیم ډول ګټه پورته کړي او د خلکو په اقتصادي وضعیت کې به مثبت بدلون رامنځته شي.

## ولې خلور ډوله ټاکنې پر یو وخت؟

۲ مخ

## ټرمپ ولې له افغانستانه د خپلو سرتېرو پر ایستلو غور کوي؟

۲ مخ

## څنګه د کار ځنډولو پر بد عادت برلاسي شو؟

۵ مخ

## نیویارک ټایمز: په (CIA) پورې اړوند جنګیالي عام افغانان وژني

نیویارک ټایمز امریکایي ورځپاڼې په افغانستان کې د متحده ایالتونو د استخباراتي ادارې اړوند جنګیالیو له لوري د ملکي افغانانو د وژنې او ځورونې په تړاو له ځینو پټښو پرده پورته کړې ده.

د دې ورځپاڼې د راپور پر اساس، په افغانستان کې د (CIA) اړوند جنګیالي چې په خوست او ننګرهار کې فعالیت کوي، خپلسري عملیات کوي او د طالبانو په نوم ملکي خلک وژني او شکنجه کوي یې.

نیویارک ټایمز ویلي: «د امریکا د استخباراتي ادارې (CIA) له ملاتړه برخمن دغه افغان جنګیالي چې په خوست او ننګرهار ولایتونو کې فعالیت کوي، د افغان ځواکونو له همغږۍ پرته په مستقیمه توګه له امریکایانو څخه امر اخلي، هغوی د امریکایانو له لوري روزل شوي او بې رحمه جنګیالي بلل کېږي. له دوی څخه د وسله والو مخالفینو د ځپلو په موخه کار اخیستل کېږي، خو په خوست او ننګرهار کې چې د دوی فعالیتونه پکې ډېر دي، د ملکي افغانانو سره ناوړه چلند کوي، وژني یې او سخت یې شکنجه کوي.»

نیوریاک ټایمز ته د خوست د نادرشاکوټ ولسوالۍ ځینو اوسېدونکو او قومي مشرانو ویلي، د (CIA) د دغو جنګیالیو ناوړه کړنو ډېری خلک اړ کړي چې دطالبانو لیکو ته ورشي، ځکه په وینا یې دغه جنګیالي له خلکو سره خورا ناوړه چلند کوي.

## د سولې لپاره سیمه ییزه اجماع د قوي کېدو په حال کې ده



۳ مخ

## مقام‌های ایرانی: معاون وزارت خارجه این کشور به کابل می‌آید



مقام‌های وزارت خارجه ایران می گویند که معاون وزارت خارجه این کشور درجریان یک یا دو هفته آینده، به کابل می‌آید.


بهرام قاسمی، سخنگوی وزارت خارجه ایران می‌گوید که قراراست آقای عراقچی برای نهایی سازی بحث‌ها دربارۀ کمیته‌هایی که روی سند همکاری‌های راهبردی کابل- تهران کار می کنند، به افغانستان بیاید. او می‌افزاید که برای اجرایی شدن جزیات سند همکاری‌های راهبردی افغانستان و ایران، پنج کمیته کار خواهند کرد، اما بحث‌ها دربارۀ دو کمیته تاکنون میان دوطرف، نهایی نشده‌اند.

این گفته‌ها درحالی ابراز می‌شود که هفته گذشته یک هیات بلند پایۀ دیگر به رهبری مشاور شورای عالی امنیت ملی این کشور از کابل دیدار کرد و روز دوشنبه تهران دیدار یک هیآت طالبان را از تهران نیز، تأید کرد. قاسمی در این باره گفت که هدف از این نشست «تعیین مواردی برای گفت‌وگو میان طالبان و حکومت افغانستان» است.

به گفتۀ قاسمی، این هیئت طالبان با هیئتی ایران به ریاست عراقچی گفت‌وگو کرده است. قاسمی افزود که حکومت افغانستان در جریان این گفت‌وگو بوده است. طالبان نیز این نشست را تأید کردند.

این در حالی است که قرار است تا چند روز دیگر چهارمین نشست ایالات متحده امریکا و گروه طالبان در شهر جدۀ عربستان سعودی، برگزار شود.

حکومت افغانستان گفته است که هیئتش را در این نشست می‌فرستد، اما گروه طالبان گفته‌اند که با هیئت حکومت افغانستان دیدار نخواهند کرد.

## دریځ

### ولې څلور ډوله ټاکنې پر یو وخت؟

د ټاکنو کمېسیون له خوا د ولسمشریزو ټاکنو ځنډولو ته د سیاستوالو او سیاسي ګوندونو له غبرګون وروسته، اوس د ټاکنو کمېسیون هغه ادعا دروغ شوه چې ویل یې د ټاکنو د ځنډ پرېکړه یې له سیاستوالو او سیاسي ګوندونو سره له مشورې وروسته کړې ده. د ولسمشرۍ ځینو احتمالي کاندیدانو، سیاسي ګوندونو، سیاستوالو او ان د ټاکنو څارونکو بنسټونو دا پرېکړه ناقانونه ګڼلې ده او ویلي یې دي چې دا پرېکړه به بدې پایلې ولري. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون هم ویلي چې د ټاکنو کمېسیون باید په دې اړه وضاحت ورکړي. د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسیون هم دا پرېکړه ناقانونه ګڼلې ده او ویلي یې دي چې په دې اړه باید وضاحت ورکړل شي. د ټاکنو کمېسیون له خوا د ولسمشریزو ټاکنو ځنډ ته غبرګونونه توند او جدي دي او ان ځینې کسان خو دا د کمېسیون او حکومت ګډه دسیسه ګڼي. دسیسه یوازې په دې کې نه ده چې ولسمشریزې ټاکنې ځنډول شوې دي، بلکې دسیسه په دې کې ده چې څلور ډوله ټاکنې یو ځای کړل شوې دي. د کمېسیون د پرېکړې له مخې د ولسمشرۍ ټاکنې، د غزني پارلماني ټاکنې او دغه راز د ولایتي او ولسوالیو شوراګانو ټاکنې ټولې به پر یو وخت کېږي. د دې پرېکړې تر شا حکومت دی او ځانګړې سیاسي هدف تعقیبوي. دا روښانه ده چې ولسمشر خپل ولسي ملاتړ له لاسه ورکړی دی او په ځانګړي ډول هغه کسان ورسره نشته چې په ولس کې نفوذ لري او یو کاندید ته رایې اخیستلی شي. اشرف غني او ملګري یې دا چاره درک کوي. اوس غواړي د خپل کمپاین لپاره د ولسوالیو او ولایتي شوراګانو له کاندیدانو کار واخلي. د پخوانیو تجربو او اټکل له مخې ولایتي شوراګانې به شاوخوا درې زره کاندیدان ولري او ولسوالیو شوراګانو ته به شاوخوا ۱۲ زره کسان ځان کاندید کړي. په دې ډول به ۱۵ زره کاندیدان وي. محمد اشرف غني غواړي له دغو ۱۵ زرو کسانو سره د معاملې او جوړجاړي له مخې خپل ځان بیا بریالی کړي. حکومت له دغو کاندیدانو سره د معاملې دوې لارې لري. لومړی دا چې دوی ته به پیسې ورکول کېږي چې ځان ته د کمپاین او درغلۍ ترڅنګ اشرف غني ته هم کمپاین او درغلي وکړي. دویم دا چې دوی ته به د کامیابۍ وعدې ورکول کېږي. له دې امله چې د ټاکنو کمېسیون د ارګ په واک کې دی، نو دوی ته به نه یوازې وعده ورکول کېږي، بلکې ګواښل کېږي به چې که د محمد اشرف غني خلاف کمپاین کوي او یا له بل کاندید سره ودرېږي، نو کمېسیون به ورته ستونزې جوړې کړي. د ارګ دغه پلان ځینو سیاستوالو او کاندیدانو درک کړی دی. له همدې امله د ټاکنو ځنډ او د څلور ډوله ټاکنو یو ځای کول ورته دسیسه ښکاري. که د ټاکنو کمېسیون په چارو کې د ارګ لاسوهنې، د کمېسیون بې کفایتۍ او له ارګ څخه پیروۍ ته وکتل شي، نو ښکاري چې ارګ او کمېسیون د محمد اشرف غني په ګټه او د نورو کاندیدانو پر خلاف یوه دسیسه کوي. دا دسیسه رښتیا هم خطرناکه ده او پکار ده چې ټول کاندیدان، سیاسي ګوندونه، سیاستوال، د ټاکنو څارونکي بنسټونه او ولس یو بل ته لاس ورکړي او د دې دسیسې مخه ونیسي. له دې پرته به ټاکنې او د خلکو رایې لا زیاتې مسخره شي او اوسنۍ ناقانونه واکمنې به دوام کوي.

# ټرمپ ولې له افغانستانه د خپلو سرتېرو پر ایستلو غور کوي؟

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې مخامخ خبرې له نږدې دریو میاشتو راهیسې روانې دي. د دغو خبرو په لړ کې د دواړو لورو استازو څو ورځې وړاندې په متحده عربي اماراتو کې ګډه ناسته درلوده چې درې ورځې یې دوام وکړ. که څه هم د دې ناستې ډېر جزیات خپاره نه شول، خو طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل چې دوی له امریکایي لوري سره په افغانستان کې د نظامي حضور په پای ته رسولو خبرې کړې دي.

په ابوظبۍ کې د امریکا ـ طالبانو له وروستۍ ناستې را وروسته، تېره اونۍ رویټرز خبري اژانس او نیویارک ټایمز ورځپاڼې داسې راپورونه خپاره کړل چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له افغانستانه د ۷ زرو امریکایي سرتېرو پر ایستلو غور کوي او داسې ښکاري چې یاد شمېر سرتېري به د روان زېږدیز کال په لومړیو څو میاشتو کې له افغانستانه وباسي.

د رسنیو دغو راپورونو د افغانستان دننه او بهر مختلف غبرګونونه راپارولي دي، خو پوښتنه دا ده چې د امریکا ولسمشر په څه دلیل له افغانستانه د خپلو نیمایي سرتېرو د ایستلو غور کولو ته اړ شوی؟ دغه راز په افغانستان کې د امریکا ۱۷ کلنې جګړې ته لنډه کتنه او دا چې له افغانستانه به د ۷ زرو امریکایي سرتېرو وتل د دغه هېواد په قضیه کې څه بدلونونه راولي؟ دا دې موضوع هغه اړخونه دي چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

**په افغانستان کې د امریکا جګړه**

د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر په ۱۱مه د امریکا پر نیویارک او واشنګټن ښارونو د «یونایټېډ» او «امریکن» هوایي شرکتونو د څلورو برمته شوو الوتکو په واسطه له بریدونو وروسته، چې شاوخوا ۳ زره کسان پکې ووژل شول، امریکا پر افغانستان برید وکړ او لسګونه زره سرتېري یې له ترهګرۍ سره د مبارزې تر نوم لاندې افغانستان ته را ولېږل.

پر افغانستان د امریکا له بریده شاوخوا ۱۷ کاله تېرېږي، خو دا جګړه لا هم ښه ګرمه روانه ده او هره ورځ د لسګونو افغانانو ژوند اخلي. په تېرو ۱۷ کلونو کې امریکا او نړیوالو ملګرو یې نه یوازې دا چې په افغانستان کې د جګړې اور مړ نه کړ، بلکې د دوی په موجودیت کې دا جګړه لا پراخه او خونړۍ شوه.

د (icasualties) اداري د معلوماتو پر بنسټ له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې د افغانستان په جګړه کې (۳۵۵۹) بهرني پوځیان وژل شوي، چې (۲۴۱۷) تنه یې امریکایي سرتېري دي. له وژل شوو ور هاخوا په یاده موده کې زرګونه نور بهرني سرتېري په افغان جګړه کې ګوډ او مات شوي هم دي. دغه راز په روانه جګړه کې لسګونه زره ملکي وګړي هم وژل شوي، د ملګرو ملتونو سازمان په وینا، یوازې په تېرو څلورو کلونو کې په افغانستان کې ۴۰ زره ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

له بله اړخه پر افغانستان د امریکا له برید وروسته د امریکا په رهبرۍ د نوي نظام بنسټ کېښودل شو، خو د ۱۷ کلونو په تېرېدو لا هم افغانستان د داسې یوه نظام صاحب نه دی چې مرکزي حاکمیت یې پیاوړی او د هېواد پر ټوله خاوره پوره حاکمیت ولري او یا هم له پوره سیاسي ثبات څخه برخمن وي. له همدې لامله لا هم افغانستان د نړۍ د فاسدو هېوادونو په نوملړ کې څلورم مقام لري.

له دې ټولو ورهاخوا، افغانستان ته د نړیوالو ځواکونو له راتګ سره میلیاردونه ډالر راغلل، خو داسې ورک شول چې اوس هم ۴۰ سلنه افغانان د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او نږدې دوه میلیونه افغانان چې د کار کولو په شرایطو برابر دي، بېکاره دي.

**ډونالډ ټرمپ او افغان جګړه**

په افغانستان کې د امریکا روانه جګړه د دغه هېواد په تاریخ کې تر ټولو اوږده بهرنۍ جګړه بلل کېږي. د امریکا دننه د دې جګړې له دوام سره ډېری خلک په ځانګړې توګه عام امریکایان مخالف دي او نه غواړي چې هېواد یې د نړۍ د نورو هېوادونو په جګړو کې ښکېل وي. له همدې لامله په افغانستان کې د امریکا د جګړې پای ته رسول، په دغه هېواد کې د سیاسي رهبرانو لپاره یو قوي ټاکنیز شعار ګڼل کېږي.

په امریکا کې د ۲۰۰۹ ز کال ولسمشریزو ټاکنو پر مهال، بارک اوباما تر ډېره د افغانستان او عراق د جګړو پای ته رسولو د شعار په زور د ولسمشرۍ ټاکنې وګټلې. اوباما په ۲۰۰۹ ز کال کې خپله افغان تګلاره اعلان کړه چې له مخې یې په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو د زیاتولو ترڅنګ د دوی د بېرته وتلو مهالوېش هم اعلان شو.

له اوباما وروسته ډونالډ ټرمپ که څه هم له ولسمشر کېدو وړاندې په افغانستان کې د امریکا پر تګلاره ډېرې نیوکې کولې او په افغانستان کې د امریکا د روانې جګړې پر پای ته رسولو یې ټینګار کاوه، خو سپینې ماڼۍ ته له ننوتلو سره یې له اتو میاشتو ځنډ وروسته، د افغانستان او سوېلي اسیا لپاره خپله نوې پوځي تګلاره اعلان کړه او د تېرو تګلارو په څېر یې یو ځل بیا په افغانستان کې د جګړې پر دوام ټینګار وکړ. دا هغه څه وو چې پر ټرمپ د امریکایي پوځي چارواکو له لوري ومنل شول او د څه مودې په تېرېدو یې پایله دا شوه چې خپله امریکایي جنرالانو په افغانستان کې د روانې جګړې بندوبست ومانه او پر دې اقرار شول چې روانه جګړه له پوځي لارې نه شي ګټلی.

په امریکا کې د ولسمشریزو ټاکنو په رانږدې کېدو سره د عامو امریکایانو د ملاتړ ترلاسه کولو په برخه کې، په نورو هېوادونو کې د امریکا د روانو جګړو او پوځي مداخلو پای ته رسول یو مهم فکټور ګڼل کېږي. له همدې امله ټرمپ هڅه کوي چې له دې لارې یو ځل بیا ټاکنې وګټي. نوموړي لومړی له سوریې څخه د خپلو ځواکونو د ایستلو اعلان وکړ او وروسته داسې راپورونه خپاره شول چې غواړي له افغانستانه هم خپل ۷ زره سرتېري وباسي.

د امریکا د داخلي سیاست له قضیې ورهاخوا داسې تحلیلونه هم شته چې د امریکا له لوري له افغانستانه د خپلو سرتېرو قضیه د امریکا ـ طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو یوه برخه ګڼل کېږي. داسې ویل کېږي چې ښایي امریکا د باور رامنځته کولو په موخه دغه ګام پورته کړي او په مقابل کې به یې طالبان د لنډمهال لپاره اوربند اعلان کړي.

خو په ټوله کې ویلی شو چې امریکا له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې په افغانستان کې لسګونه زره سرتېري ځای پر ځای کړي، خو جګړه لا نه ده ختمه شوې او د افغانستان وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي. په وروستیو کې امریکا خپله منې چې دوی د افغانستان په جګړه کې له بندو بست سره مخ دي او باوري دي چې له پوځي لارې دا جګړه نه شي ګټلی. په همدې خاطر هڅه کوي چې د خبرو اترو له لارې روانه جګړه پای ته ورسېږي.

**پایله**

پر افغانستان د امریکا له برید وروسته، افغانانو له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې د جګړې او بربادۍ پرته بل څه ونه لیدل. هر دردېدلی افغان د سولې تږی دی او په هر قېمت حاضر دی چې روانه جګړه نوره پای ته ورسېږي. دوی د سولې په برخه کې هر کوچني ګام ته ډېر خوشاله کېږي او د ځان لپاره یې د خورا زیاتو هیلو لامل ګرځوي، نو له همدې امله د امریکا وتل په اوسمهال کې د هر افغان یوه ستره هیله ده.

له افغانستانه د امریکا یا نورو بهرنیو ځواکونو احتمالي وتل که له ځان سره ډېر مثبت ټکي لري، خو ځینې منفي ټکي هم لري چې هغه خپله د افغانانو په سیاسي ځیرکتیا پورې اړه لري.

طالبان له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د حضور پر ضد جګړه کوي. دغې ډلې د سولې او پخلاینې ټولې خبرې د بهرنیو ځواکونو تر حضوره را محدودې کړې دي. په داسې یوه حالت کې د بهرنیو ځواکونو وتل د سولې پر وړاندې یو ستر خنډ له منځه وړي او سولې ته د رسېدو هیلې را ژوندۍ کوي. په اوسمهال کې د ټولو وسله والو جنګېدونکو ډلو د جګړې بهانه ختموي او د جګړې له ختمېدو یا لږ تر لږه له کمېدو سره وژنې او بربادۍ هم را کمېږي.

پر دې سربېره په افغانستان کې د بهرنیانو حضور د افغان دولت حاکمیت او قاطعیت هم تر خپل سیوري لاندې راوستلی دی. د افغان دولت په چارو کې د دوی لاسوهنو د افغان حکومتي چارواکو ترمنځ داخلي اختلافات رامنځته کړي دي. ډېری برخلیک ټاکونکو پروسو، د دوی د مداخلو له کبله خپل باور له لاسه ورکړی، د خلکو ترمنځ په مختلفو نومونو تبعیض او تعصب زیات شوی دی.

له بله اړخه په افغانستان کې د امریکا او متحدینو حضور یې د دې لامل شوی چې د سیمې هېوادونه وېره احساس کړي او د خپل ځان ساتلو په موخه په افغانستان کې لاسوهنه وکړي، څو امریکا او متحدینو ته یې سرخوږی پیدا شي، خو د دې هرڅه قرباني بیا هم افغانان ورکوي.

له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو پر دغو ټولو مثبو اړخونو سربېره، هغه څه چې د اندېښنې وړ دي، هغه د دواړو لورو ترمنځ د هغو کسانو موجودیت دی چې خپلې ګټې یوازې د جګړې په دوام کې ګوري او هېڅکله هم نه غواړي چې دا جګړه ختمه شي. دا رنګه کسان ښایي سولې ته د رسېدو په لاره کې خنډونه رامنځته کړي، خو ټولو افغانانو په ځانګړې توګه د طالب او حکومت په چوکاټ کې هغه چارواکي چې غواړي جګړه پای ته ورسېږي، اړتیا ده چې له ډېرې ځیرکتیا کار واخلي، د هېواد د ملي ګټو په خاطر داسې سیاست غوره کړي چې د امریکا له وتلو وروسته یو پیاوړی او ټول منلی مرکزي حکومت رامنځته شي، نه دا چې له افغانستانه د روسانو له وتلو وروسته تجربه یو ځل بیا تکرار شي.

## سیاسي ګوندونه: حکومت د ټاکنیز بهیر په پېچلي کولو کې لاس لري



ځینې سیاسي ګوندونه او څارونکي په ولسمشریزو ټاکنو کې ځنډ د حکومت له خوا د دغو ټاکنو د مهندسي کولو هڅه او د ټاکنو د قانون او ولسواکۍ خلاف عمل بولي.

د ملي وفاق ګوند رییس او د ولسمشریزو ټاکنو احتمالي نوماند احمد ولي مسعود د ټاکنو د ځنډ په غبرګون کې یوې جوړې شوې غونډې ته په کابل کې وویل، په ټاکنو کې د ځنډ پرېکړه د اصلاحاتو لپاره نه، بلکې په دغه بهیر کې د حکومت د لاس بري لپاره شوې ده.

نوموړي وویل: «په تېرو پنځو کلونو کې حکومت اصلاحاتو ته کافي وخت درلود، په همدې بنسټ ښکاري چې حکومت د دغه بهیر په پېچلي کولو کې لاس لري او زموږ غوښتنه دا ده چې دغه بهیر نور پېچلی نه کړي. هېواد باید د ټاکنیز ناورین سره مخ نه شي او حکومت ورڅخه د ځان په ګټه استفاده ونه کړي.»

د دغو ګوندونو په خبره، حکومتي صلاحیتونه باید محدود شي، څو له قانوني خلاوو څخه ناوړه استفاده ونه کړي. همدا راز په ټاکنیزو کمېسیونونو کې پراخ اصلاحات هغه نور وړاندیزونه دي چې دغه ګوندونه یې مطرح کوي.

دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون اعلان کړی و چې د ولسمشریزو او غزني ولایت پارلماني ټاکنې د ورې په ۳۱مه او د ولسوالیو شوراګانو ټاکنې په ځنډ سره کوي، خو درې ورځې وړاندې دغه کمېسیون اعلان وکړ چې دغه ټولې ټاکنې یوځای د چنګاښ په ۲۹مه کوي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون په خپله پرېکړه کې د بدلون لامل، د شته ستونزو له منځه وړل، په کمېسیون کې د اصلاحاتو راوستل او په ښه توګه د ټاکنو بهیر ترسره کول ښیي.

بلخوا د افغانستان د خلکو د محور ګوند غړي داوود علي نجفي په دې اړه په کابل کې یوې بلې غونډې ته وویل، د ولسمشریزو ټاکنو په اړه د کمېسیون نوره بې غورۍ، ټاکنې له ناورین سره مخ کوي.

خو ولسمشرۍ ماڼۍ بیا دا انتقادونه ردوي او وایي چې ټولې خواوې باید د ټاکنو خپلواک کمېسیون پرېکړو ته درناوی وکړي.

د ولسمشر مرستیال ویاند شاه حسین مرتضوي وایي: «حکومت د انتخاباتي کمېسیونونو خپلواکۍ ته درناوی لري. د انتخاباتو د مهالوېش اعلانول د کمېسیون له صلاحیتونو څخه دي، د کومو دلایلو له امله چې کمېسیون د انتخاباتو د ترسره کېدو نېټه ځنډولې، حکومت یې هرکلی کوي.»

په ولسمشریزو ټاکنو کې د ځنډ په اړه د سیاسي ګوندونو او څارونکو له خوا دا انتقادونه په داسې حال کې کېږي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما د جمهوري ریاست په ټاکنو کې له ځنډه هرکلی کړی او د ټاکنو په خپلواک کمېسیون کې یې د بنسټیزو اصلاحاتو غوښتنه کړې.

### د ټاکنو پر ځنډ غبرګونونه؛

# د ۱۳۹۸ کال تر جوزا وروسته اوسنی حکومت مشروعیت نه لري



ډېرو سیاسي گوندونو او پر ټاکنو د څار بنسټونو د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو د ځنډولو پرېکړه غیر قانوني بللې ده. دوی وایي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون له قانون سره په ټکر کې اقدامات ترسره کوي او په دې سره په هېواد کې نوي ستونزې جوړوي. د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو احتمالي نوماند حنیف اتمر وایي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون دغه پرېکړه د حکومتي ادارو د فشار له امله کړې ده. دده په خبره، د حکومت په غوښتنه دغه ډول پرېکړې د ټاکنو کمېسیون خپلواکي تر پوښتنې لاندې راولي. د حنیف اتمر له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د ۱۳۹۸ کال د جوزا په لومړۍ نېټه د اوسني حکومت قانوني موده ختمېږي او تر هغه وروسته خپل کار ته ادامه نه شي ورکولی. د اتمر په خبره، که حکومت تر یادې نېټې وروسته خپلې دندې ته ادامه ورکړي، نو په هېواد کې به ولسواکي زیانمنه کړي او یو نوی بحران به رامنځته شي.

هغه پر گوندونو او سیاسي څېرو غږ کړی چې د حکومت د دغه غیر قانوني کړنو مخه ونیسي او د واک مودې تر ختمېدو وروسته دې رامنځته کېدونکې تشه ډکه کړي.

بل پلو د رحمت الله نبیل په مشرۍ د افغانستان د خلکو محور گوند هم د ټاکنو کمېسیون دغه پرېکړه غیر قانوني بللې ده. د یاد گوند په خبرپاڼه کې راغلي، حکومت غواړي ټاکنې په خپل زړه مهندسي کړي، نو ځکه یې د ټاکنو ځنډولو سپارښتنه کړې ده. یاد گوند ویلي، د ټاکنو کمېسیون دغه پرېکړه د اساسي قانون له ٦١مې مادې سره په ټکر کې ده. دوی غوښتنه کړې چې حکومت دې د ټاکنو کمېسیون په چارو کې لاسوهنه بنده کړي او په دې توگه دې ولسواکي نه زیانمنوي. په خبرپاڼه کې راغلي، که د ټاکنو ځنډ د سولې لپاره وي، نو خلک یې زغملی شي، خو که داسې نه وي، نو د قانون نقض ته اجازه نه شي ورکولی.

بل لور ته پر ټاکنو د څارونکو بسټونو ټولنه بیا وایي چې د ټاکنو د ځنډ په اړه د ټاکنو خپلواک کمېسیون توجیهات غیر قانوني او د منلو نه دي. د دوی په خبره، که د ټاکنو خپلواک کمېسیون راتلونکې ټاکنې وځنډوي، نو خلک به پر ټاکنو بې باوره کړي، قانوني ستونزې به رامنځته کړي او په افغانستان کې به تازه رامنځته شوې ولسواکي زیانمنه کړي.

دغه بنسټ پر نړیواله ټولنه او نړیوالو څارونکو بنسټونو غږ کړی چې د افغانستان د ټاکنو او دلته د ولسواکۍ په برخه کې پر روانو مسایلو پټه خوله پاتې نه شي او د افغانانو حقوقو ته دې درناوی وکړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون په خپله وروستۍ پرېکړه کې ویلي چې راتلونکې ټاکنې به د ۱۳۹۸ کال د سرطان په ۲۹مه ترسره کړي. تر دې وړاندې ټاکل شوې وه چې دغه ټاکنې د یاد کال د وري یا حمل میاشتې په ۲۹مه ترسره شي.

## تېره میاشت په هېواد کې ۲۷۸ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده



د ملکي وگړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې گروپ یا (CPAG) د معلوماتو پر اساس، تېره میاشت د ملکي مرگ ژوبلې په لړ کې، کابل د درنې مرگ ژوبلې شاهد و. د یاد گروپ له خوا پژواک ته په لېږل شوې خبرپاڼه کې راغلي، د دوی را ټولې شوې شمېرې ښیي چې په تېره ډسمبر کې په ۱۵ ولایتونو کې د ملکي مرگ ژوبلې ۴۰ پېښې ثبت شوې دي.

سرچینې زیاته کړې، په دغو پېښو کې د ښځو او ماشومانو په گډون ۲۷۸ ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې چې ۱۸۴ یې وژل شوي او ۹۴ نور یې ټپیان دي.

د دغه گروپ معلومات ښیي چې له یادې مرگ ژوبلې څخه ۵۵ ملکي کسان یوازې په کابل کې وژل شوي او ۳۰ نور ټپیان شوي دي. د کابل تر ټولو خونړۍ پېښه د شهیدانو او معلولینو معینیت او ټول گټو وزارت پر ودانیو وسله وال برید و چې په پایله کې یې ۴۷ ملکي کسان ووژل شول او ۲۷ نور ټپیان شول چې له دې ډلې ۷ ښځې وژل شوې او ۱۱ نورې ټپیانې شوې دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، که څه هم له یوې خوا په نړیواله کچه د سولې خبرې تودې شوې دي، خو له بله اړخه د افغانستان په ځینو ولایتونو کې جگړې زور اخیستی او په ترڅ کې یې ډېره مرگ ژوبله ملکي کسانو ته اوړي.

سرچینې ویلي: «پکار ده چې یوځل بیا پر ملگرو ملتونو سازمان او امریکا متحده ایالتونو غږ وکړو چې په افغانستان کې دې ملکي تلفاتو ته پاملرنه وکړي او په جگړه کې ښکېلې غاړې دې وهڅوي چې د ملکي مرگ ژوبلې مخنیوی وکړي».

د ملکي وگړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې گروپ د حکومت له وسله والو مخالفینو یو ځل بیا په کلکه غوښتنه کوي چې پر ښارونو دې له ډله ییزو بریدونو څخه ډډه وکړي، څو د ملکي وگړو پراخه مرگ ژوبله تکرار نه شي.

یاد گروپ چې له شاوخوا شلو مدني ټولنو څخه جوړ شوی، هره میاشت د ملکي تلفاتو رپوټ خپروي او په دې برخه کې د رسنیو او مختلفو ناستو او مجلسونو له لارې د قرباني شویو کورنیو لپاره د عدالت غوښتنه کوي.

## اجرایه ریاست: د سولې لپاره سیمه ییزه اجماع د قوي کېدو په حال کې ده

اجرایه ریاست وایي، په تهران کې د ایراني چارواکو او طالب استازو ترمنځ لیدنه د هغو سیمه ییزو هڅو یوه برخه ده چې په ترڅ کې یې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرو ته زمینه برابرېږي.

د اجریه ریاست مرستیال ویاند فریدون خوځون ازادي راډیو ته وویل، د افغان سولې په اړه سیمه ییزه اجماع د قوي کېدو په حال کې ده او افغان حکومت د ټولو هغو هلو ځلو هرکلی کوي چې له مخې یې طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته هڅول کېږي.


نوموړي زیاته کړې: «د افغان سولې په اړه خوشبختانه سیمه ییزه اجماع د لاقوي کېدو په حال کې ده. ایران هم په همدې هدف خپلې هڅې تېزې کړې او له افغان حکومت سره خپلې ټولې هڅې شریکوي. ایران کوښښ کوي چې د افغان حکومت په مشرۍ او مالکیت د سولې خبرو اترو ته زمینه برابره کړي، موږ له دې هڅو هرکلی کوو.»

خوځون وایي، افغان حکومت هیله من دی چې د وسله والو طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې د مخامخ خبرو د پیلېدو په برخه کې به د ایران هڅې مثبته پایله ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د روانې اونۍ د یکشنبې په ورځ، طالب استازو په تهران کې د ایران د بهرنیو چارو وزارت له چارواکو سره ولیدل.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند بهرام قاسمي ورمه ورځ په تهران کې خبریالانو ته وویل، طالب استازو د دغه هېواد د بهرنیو چارو له مرستیال وزیر عباس عراقچي سره په هر اړخیزو مسایلو خبرې کړې دي.

وسله والو طالبانو هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره دغه لیدنه تایید کړې او ویلي یې دي چې د



طالبانو یوه پلاوي په افغانستان کې د دوی په وینا د اشغال له پای ته رسېدو وروسته، افغانستان او سیمې ته د سولې او امن د اعادې په اړه له ایران سره خپل نظریات شریک کړي.

له دې مخکې کابل ته تېره اونۍ د ایران د ملي امینت سلاکار علي شمخاني هم له افغان چارواکو سره په خبرو کې تایید کړه چې د طالبانو له استازو سره یې خبرې کړې او وویل چې دغو خبرو ته به دوام ورکړي.

## شمالي کوریا: که امریکا خپلې ژمنې عملي نه کړي، نوې تگلاره به غوره کړو

د شمالي کوریا مشر خبرداری ورکړی چې که د امریکا متحده ایالتونه له دغه هېواد سره خپلې کړې ژمنې عملي نه کړي او فشارونو ته دوام ورکړي، پیونگ یانگ به نوې تگلاره غوره کړي.

د دغه هېواد مشر کېم جونگ اون ویلي، که امریکا پر دغه هېواد خپلو بندیزونو او فشارونو ته دوام ورکړي او هغه ژمنې عملي نه کړي چې د نړۍ په مخ کې یې له دغه هېواد سره کړې، دوی به پر نورو لارو چارو غور وکړي او خپله تگلاره به بدله کړي.

نوموړي دغه راز د نوي کال په مناسبت، په خپل پیغام کې د امریکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره د ۲۰۱۸ ز کال د جون میاشتې د تاریخي کتنې، چې په سنگاپور کې وشوه، ستاینه هم کړې ده.

په دې کتنه کې دواړو مشرانو ویلي وو چې گټورې خبرې یې درلودې او رغنده نظریات یې تبادله کړل.

کېم دغه راز ویلي، په راتلونکې کې هر وخت له ټرمپ سره بلې کتنې ته اماده دی.

نوموړي دغه راز پر متحده ایالتونو غږ کړی چې له جنوبي کوریا سره پوځي تمرینونه ودروي.

هغه ویلي، متحده ایالتونه تل خپلې ژمنې ماتوي او په یو اړخیز ډول له موږه په مشخصو غوښتنو سره زموږ د صبر او زغم په اړه ناسم قضاوت کوي او بندیزونو او فشارونو ته دوام ورکوي.

کېم او ټرمپ د تېر کال د جون میاشتې په کتنه کې په دې اړه چې د کوریا ټاپو وزمه له اټومي وسلو څخه پاکوي، د ځینو مسایلو په اړه هوکړه کړې وه، خو له هغې وروسته په دې برخه کې ډېر لږ پرمختگونه شوي دي.

د شمالي کوریا د چارواکو او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ترمنځ هغه غونډه چې په پام کې وه د تېر کال په نومبر کې وشي، لغوه شوه او دا هم نه ده ټاکل شوې چې څه وخت به دا غونډه کېږي.

د جنوبي کوریا چوسن ایلبو ورځپاڼې د خبر له مخې، د شمالي کوریا مشر ټرمپ ته یو لیکلی پیغام استولی چې محتوا یې د روغې جوړې ده، خو د لیک په اړه زیات جزیات نه دي ورکړل شوي.

د جنوبي کوریا د ولسمشر مون جه-اېن دفتر دغه راز ویلي چې کېم، سیول ته هم یو لیک استولی او غوښتنه یې کړې چې په ۲۰۱۹ ز کال کې د کوریا له ټاپو وزمې د اټومي وسلو د پاکولو لپاره دې د دواړو کوریاوو ترمنځ نورې خبرې اترې وشي.



تېر کال د شمالي کوریا مشر کېم جونگ اون د نوي کال په مناسبت په وینا کې اعلان وکړ چې غواړي له واشنگټن او سیول سره نوې ډیپلوماټیکې اړیکې پرانېزي چې په پایله کې یې ده له مون سره درې غونډې او له ټرمپ سره هم یوه تاریخي غونډه لرله.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډیوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### لومړی څپرکی
### پر خپل برې باور ولرئ:




د کارکوونکو د ځانگړتیاوو په اړه مې نږدې زرگونه دوسیې ښکته پورته کړې. څومره څېړنه مې چې وکړه، ایله پوه شوم چې د کارکوونکو په هوش او ځیرکتیا کې چندان توپیر او واټن نشته. د دې ترڅنگ زده کړې هم د دومره لوی توپیر لپاره دلیل نه شي کېدای. په ټولو بریالیو او ناکامو کارکوونکو کې اصلي توپیر وروسته ښکاره شو او هغه د دوی په لیدلورو او ذهنیت کې توپیر و. بریالی ډلې به لړه اندېښنه کوله، کار یې په ډېره مینه کاوه او له خلکو سره یې په ډېره مینه کوله.
که موږ د خپلې طبیعي وړتیا اندازه بدله کړو، چندانې بریا ته پرې نشو رسېدای، خو څه چې لرو که له دې د گټنې او کار اخیستو بڼه بدله کړو، نو ډېر څه به ترلاسه کړو.
معلومات هغه وخت یو قوت دی، چې ترې سمه گټه واخیستل شي. بدبختانه له معلوماتو ناسم اخذ هم د ځیرکتیا د نشتون په څېر رایجه بهانه ده. زیاتره خلک وایي چې معلومات قوت دی، خو دا جمله یوازې نیم حقیقت ښیي. باید ووایو چې معلومات پټ قوت دی، یوازې هغه وخت ښکارېږي چې کله ترې سمه گټه واخیستل شي.
د انشټین په اړه مشهوره ده چې یوه ورځ ترې پوښتنه وشوه: یو میل څو فوټه دی؟ هغه ووېل: (نه پوهېږم! زه مې ماغزه له هغو معلوماتو ولې ډک کړم چې څو ثانیو کې یې په یوه کتاب کې لوستی شو.)
انشټین موږ ته لوی درس راکړی دی. هغه وایي ذهن باید د فکر کولو لپاره وکارول شي، نه د معلوماتو راټولولو لپاره.
یوه ورځ د فورډ کمپنۍ بنسټگر (هنري فورډ) له شیکاگو تریبیون مجلې سره په لانجه واوښت. تریبیون فورډ بیسواده انسان بللی و او فورډ ورته په دومره باور یوازې دا ځواب ورکړ چې: تاسې دا موضوع ثابته کړئ.)
مجلې له فورډ نه ځینې پوښتنې وکړې، مثلاً د انقلاب جگړه څه وخت شوې؟ بندیکت ارنولد څوک و؟ او نور.... هنري فورډ رسمي زده کړې نه لرلې، په دې خاطر یې زیاتې پوښتنې ځواب نه کړای شوې.
اخر چې ډېر تنگ شو، ویې ویل: زه دا پوښتنې نشم ځوابولای، خو په پنځو دقیقو کې داسې یو کس پیدا کولای شم چې دا ټولې پوښتنې ځواب کړي.)
هنري فورډ له عمومي معلوماتو سره علاقه نه درلوده، دی یوازې په هغه خبره پوهېده چې هر لوړ پوړی مدیر پرې پوهېږي: معلوماتو ته د لاسرسي څرنگوالی تر دې غوره دی چې خپل ذهن له معلوماتو ډک کړو.
معلومات لرونکي خلک څه ارزښت لري؟
زما یوه ملگري اوس اوس یو تولیدي شرکت جوړ کړی، شرکت یې ښه دی مخ پر وده روان دی، څو ورځې مخکې له دې ملگري سره مېلمه شوم. تصادفاً په دې ورځ تلویزیون د پوښتنو او ځوابونو یوه مشهوره خپرونه نشروله. یو گډونوال څو اونۍ پرله پسې صحنې ته راته او داسې پوښتنې یې ځوابولې چې عموماً عجیبه او له ذهنه لرې وې.
یو وخت یې په ارجنټاین کې د یوه غره په اړه جالبه پوښتنه ځواب کړه، زما کوربه ماته مخ کړ، ویې ویل: (ته څه وایې، دې سړي ته څومره پیسې ورکړم چې کار راته وکړي؟)
ومې پوښت: (څومره ورکوې؟)
ویې ویل: (له سل ډالرو یو سینټ زیات نه ورکوم او هغه د اونۍ نه، د میاشت هم نه، د کال هم نه، بلکې د ټول عمر ... . زه پوه شوم چې دا سړی فکر نه شي کولای، یوازې معلومات حفظولای شي. دا سړی گرځنده دایرة العمارف دی او که سم حساب ورته وکړو، نو په درې سوه ډالر د دایرة المعارف بشپړ ټوک اخیستی شو. ښایي بیه به یې له دې هم ټیټه وي، دا سړی چې څومره معلومات لري، دا ټول په دوه ډالري جنترۍ کې هم پیدا کېږي.
زه داسې کسان غواړم چې مسایل حل کړي، داسې خلک چې ایډیا ورکړي، تخیل ولري او خپل خوبونه ربښتیا کړي. ماته فکر لرونکی کس کار او پیسې گټلای شي، خو معلومات لرونکی کس یې نه شي کولای.
د ناهوښیارتیا بهانې د له منځه وړلو لپاره درې لارې
۱) هېڅ وخت ځان لږ او نور خلک ډېر هوښیار مه گڼئ. ځان کم مه گڼئ. خپلو امتیازاتو ته درناوی ولرئ، خپلې وړتیاوې کشف کړئ او دې ته پام کوئ چې ستاسې د هوښیارتیا او ځیرکتیا اندازه هېڅ ارزښت نه لري، بلکې اصلي نبوغ دا دی چې گټه ترې څنگه اخلئ. د خپلې ځیرکتیا او هوښیارتیا درجې ته اندېښنه مه کوئ، د هغه پر ځای له فکره کار واخلئ.
۲) د ورځې څو ځله ځانته ووایئ چې: زما ذهنیت او لیدلوری تر هوښیارتیا ډېر مهم دی. په کور او کار کې مثبت ذهنیت خپل کړئ. په هر کار کې د ماتې پر ځای د برې دلایل وشمېرئ. دا ذهنیت جوړ کړئ چې (زه گټونکی یم). خپله ځیرکتیا په مثبتو او نویو کارونو کې وکاروئ، د بریاوو د کونجی پیدا کولو کار ترې واخلئ، ځان پرې په ماتې او وروسته پاتې کېدو مه قانع کوئ.
۳) دا یاد ساتئ چې د فکر کولو وړتیا، د معلوماتو تر حفظولو ډېره مهمه ده. له خپل ذهنه د مفکورو (ایډیاوو) د پنځولو او عملي کولو کار واخلئ. د کارونو د ترسره کولو لپاره نوې او ښې لارې چارې پیدا کړئ. له ځانه پوښتنه وکړئ چې: (زه له خپله ذهنه د تاریخ جوړولو کار اخلم که د نورو جوړو شوو تاریخونو د ثبتولو؟)

**دوام لري...**

# د هوسا ژوند ۳۰ رازونه

◄ اکسوس کتابپلورنځی




د هوسا ژوند ۳۰ رازونه کتاب چې په دې وروستیو کې له چاپه راوتلی، د لوستونکو لپاره په ژوند کې د کامیابۍ، د ښو اړیکو پاللو، د ماشومانو د روزنې او یوې اغېزمنې کورنۍ د جوړولو، د غوره ټولنیزو چلندونو، هیلو ته د رسېدو، د اغېزمن شخصیت جوړولو او پر ځان د باور پیدا کولو په اړه گټورې مشورې او خبرې لري.
دغه کتاب چې ژباړونکې او راټولونکې یې اغلې حمیده امین الکوزۍ ده، په ۹۰ پاڼو او بېلابېلو سرلیکونو کې په غوره فصاحت سره د ختیځ خپرندویې ټولنې له لوري چاپ شوی دی.
د کتاب د متن ژبه روانه، ساده او عام فهمه ده چې لوستونکی په لومړي ځل لوستلو سره ترې اصلي مفهوم ترلاسه کولای شي.
د دغه اثر بله ښه ځانگړنه دا ده چې تر ډېره د عملي او ازمایل شویو تکتیکونو، تجربو او روشونو څخه پکې استفاده شوې او ټولې سپارښتنې یې له ازمایښتونو او څېړنو وروسته وړاندې کړې دي.
د دې ترڅنگ د کتاب بحثونه ډېر لنډ او جالب دي. له اضافي خبرو او جملو څخه پکې ډډه شوې ده او لوستونکی نه ستړی کوي.
هغه وروڼه او خویندې چې په خپل ژوند کې د ژور خپگان، ناهیلۍ، کورنیو ستونزو، ټولنیزو بې ثباتیو، رواني اختلالاتو، د نه پرمختگ، غمجن کېدو او په ځان د نه باور له ستونزو سره مخ وي، د دغه کتاب سپارښتنې او لارې چارې ورسره مرسته کوي.
د کتاب ژباړونکې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې محصله ده چې تر دې وړاندې یې پښتو ژبې ته یو بل کتاب «سل کاله ژوند وکړئ» ( د نېکمرغه ژوند ۲۱ رازونه) په نوم هم ژباړلی او چاپ شوی دی.
د کتاب د ژباړونکې په وینا، څکه یې د ارواپوهنې په برخه کې ژباړې ته ملا وتړله چې افغاني ټولنه په حقیقت کې د جگړو، بېوزلیو او غربت له وجې یوه رنځوره ټولنه ده او په رواني لحاظ یې اکثریت وگړي رنځور دي، نو د دې اړتیا له مخې یې دا گام پورته کړی دی.
د دې ترڅنگ دویم دلیل یې دا هم دی چې پښتو ژبه د فکري رغونې او سلامتیا په برخه کې د اړتیا د پوره کېدو په اندازه مواد او اثار نه لري. د علومو زده کوونکي او نور وگړي تل په دغو برخو کې له ستونزو سره مخ وي، د دې لپاره چې خپل ټولنیز مسوولیت یې ادا کړی وي، نو په ژباړه یې لاس پورې کړی.
مینه وال کولای شي دغه کتاب په کابل کې له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو، په ننگرهار کې د ختیځ کتاب پلورنځي، په خوست کې له قریشي او نورو کتاب پلورنځیو څخه ترلاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Basic TACTICS FOR LISTENING +wb+cd | Jack c. richards | ۱۸۰؋ |
| ۲ | DEVELOPING TACTICS FOR LISTENING+WB+CD | | ۱۸۰؋ |
| ۳ | EXPANDING TACTICS FOR LISTENING cd+sheet+scripts | | ۱۸۰؋ |
| ٤ | Originals how non-conformists move the world | adam Grant | ۲۰۰؋ |
| ٥ | Essential Words for IElts 3rd Edtion | Barrons | ۲۰۰؋ |
| ٦ | Essential Words for the GRE 4th Edition | | ۱۸۰؋ |
| ۷ | Essential Words for the Toefl 7Edition | | ۱۵۰؋ |
| ۸ | راهنمای واژگان ضروری تافل ویرایش هفتم | رضا دانشوری | ۲۰۰؋ |
| ۹ | Longman Student Grammar of spoken and written English | Douglas biber | ۲۷۰؋ |
| ۱۰ | Contemporary Topics1 21st century skills for academic suc-cess +DVD 4th | Ellen kisslinger | ۱۸۰؋ |
| ۱۱ | Contemporary Topics2 21st century skills for academic suc-cess +DVD 4th | | ۱۸۰؋ |
| ۱۲ | Contemporary Topics3 21st century skills for academic suc-cess +DVD 4th | | ۱۸۰؋ |
| ۱۳ | IELTS Practice tests plus2 | morgan terry judith wilson | ۲۲۰؋ |
| ۱٤ | Toefl iBT Premier 2016-2017 with 4 Practice Tests | kaplan | ٤۰۰؋ |
| ۱٥ | د افغانستان د وسله وال پوځ تاریخ | تورنجنرال دولت وزیری | ٤۰۰؋ |
| ۱٦ | د مالي محاسبې اساسات | ربانی زلمی | ۲۰۰؋ |
| ۱۷ | نگرشی تحلیلی و نو بر اشتباه و تاثیر ان در قراردادها مطالعه تطبیقی دحقوق ایران،انگلیس و آمریکا | رضا ذکری | ۲۷۰؋ |
| ۱۸ | خصوصی سازی و توسعه حقوق بشر | دکتر رضا اسلامی | ۲٥۰؋ |
| ۱۹ | حقوق اداری تطبیقی نظارت قضایی بر مقررات دولتی در انگلستان و فرانسه | دکتر جواد محمودی | ۲۲۰؋ |
| ۲۰ | در آمدی بر قابلیت ارجاع در داوری های تجاری بین المللی | جواد سیدی | ۱٤۰؋ |
| ۲۱ | وکالت ثانوی | مهسا مدنی | ۱۲۰؋ |
| ۲۲ | حقوق اداری تطبیقی | محمد شمعی سارا شهباز | ۳۰۰؋ |
| ۲۳ | حقوق مدنی۲ حقوق اموال و مالکیت تصرف و وقف | مهراب داراب پور | ۳۰۰؋ |
| ۲٤ | حقوق بانکی تطبیقی جلد دهم دوره حقوق تجارت | دکتر محمود عرفانی | ۱٥۰؋ |
| ۲٥ | حقوق مالکیت فکری در تجارت بین الملل مطالعه تطبیقی جلد نهم دوره حقوق تجارت | | ۳۷۰؋ |
| ۲٦ | حقوق تجارت جلد اول با تجدید نظر و اضافات | | ۲۲۰؋ |
| ۲۷ | ته گټونکی یې(نهم چاپ) | شیوا کهرا | ۱٥۰؋ |
| ۲۸ | په یویشتمه پېړۍ کې د بشري سرچینو مدیریت | زورلوسن یوسل | ۱۰۰؋ |
| ۲۹ | قدرت | راندا برن | ۱٥۰؋ |
| ۳۰ | راهنمای مردان برای شناخت زنان | دکتر جان گاتمن | ۲۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

همیانی

# څنگه د کار ځنډولو پر بد عادت برلاسي شو؟

ژباړه: امان الله«حنيفي»

که تاسې فکر کوی چې په وار وار مو ضروري کارونه شاته اچوی او په ځنډ یې سرته رسوی، پوه شی چې پر دې مصیبت یوازې تاسې نه یی اخته، ډېر داسې کسان شته چې ضروري کارونه یې پس او په ځنډ سرته رسوي.

بده خو لا دا ده چې ځینې کسان د دغه عادت په درلودو سره د دې پر ځای چې راپاڅي او دا عادت پرېږدي، دوی لا هم دغه عادت ته تسلیمېږي او هم دغه بد عادت ورځ تر بلې پرې غلبه کوي.

پر دغه بد عادت برلاسي کېدل خپله یو تکتیک لري. د دغه قفل د خلاصولو کلي دا ده چې له ځان سره فکر وکړئ، کله مو کارونه ځنډوی یا کله دا هڅه کوی چې کارونه مو وروسته سرته ورسوی، دا پېښې له ډېرو پیاوړو او بریالیو کسانو سره هم شوي، خو د وخت مدیریت او د ځان تنظیم له دې هر څه خلاص کړي دي.

تاسې هم کولای شی، خو په دې شرط چې ځان مو منظم او د وخت مدیریت مو په خپل لاس کې واخلی.

څنگه پوه شی چې دا بد عادت تاسې هم لری؟ کله مو چې د ضروري کارونو پر ځای نور غیر ضروري کارونه سرته رسول او یا مو ویل چې دا به وروسته سرته ورسوم، پوه شی چې تاسې پر دې مصیبت اخته یی.

که غواړی پر دغه بد عادت برلاسي شی، لاندې اصول درسره تعقیب او پلي کړئ:

**لومړی- له ځانه وپوښتئ چې تاسې دا بد عادت لری او کنه؟**

که رښتیا له ځان سره رښتیني او صادق وی، حتمن دا درته مالومېږي چې کله مو کارونه ځنډوی یا د هغه د سرته رسولو په وخت څنگه بهانې لټوی.

د دې لپاره چې متوجې شی چې کله مو کارونه ځنډوی، کولای شی لومړي سر کې هغه څه تعقیب کړی چې ستاسې د کارونو د ځنډولو سبب کېږي، لکه: کله چې د ورځنیو کارونو د سرته رسولو لېست جوړوی، هغو کارونو ته لومړیتوب ورکوی چې هغه د لومړیتوب ارزښت نه لري.

را ولاړېږی او ځان اماده کوی، څو یو کار سرته ورسوی، خو کله چې پاڅېږی، سمدستي فکر کوی چې یوه پیاله چای به وڅښم بیا به یې سرته ورسوم.

په کاري لېست کې مو داسې کار شته چې ډېر وخت کېږي د سرته رسولو تکل یې لری، خو تر اوسه مو له ځایه هم نه دی لرې کړی. په داسې حال کې چې تر ډېرو کارونو به مهم او ضروري وي.



تاسې هغه کارونه سرته رسوی چې ډېر اهمیت نه لري، مخکې له دې چې د لېست له مخې مو په مهمو او ضروري کارونو پیل وکړی، وخت مو پر هغو کارونو مصرفوی چې ډېر اهمیت نه لري.

د دې لپاره چې مهم کارونه مو سرته ورسوی، د وخت په تمه کېږی. وایئ، کله چې مناسب وخت راورسېد، بیا به یې سرته ورسوم او یا وایئ، اوس مې له وسه نه کېږي، لږ وروسته یې سرته رسوم.

**دویم- په ولې ځان پوهول**

د دې لپاره چې ولې مو کارونه بل وخت ته ځنډوی، کولای شی هم د ځان او هم د هغه کار په اړه فکر وکړی. خو باید پوه شی چې له دغو دوو (ځان او کار) څخه کوم یو مشکل جوړونکی دی، څو بیا وکولای شی پر هغه د ښې برلاسی لپاره یوه لاره وټاکی.

کېدای شي یو لامل دا هم وي چې هغه کار هېڅ ستاسې په زړه جوړ نه وي. د داسې کارونو له سرته رسولو څخه ځان وساتئ. داسې کارونه معمولاً سړی تر فشار لاندې راولي، خو د دغه ډول کارونو له شره د خلاصېدو تر ټولو ښه لاره دا ده چې لومړی همغه کارونه سرته ورسوی له کومو چې تاسې وېرېږی، څو مو په زړه پورې کارونو ته وخت پیداکړی او پر هغه ښه تمرکز وکړی.

بل دلیل دا هم دی چې ځینې کسان د بې نظمیو پېټي دي. منظم کسان کولای شي د کارونو د سرته رسولو له شر څخه ځانونه خلاص کړي، ځکه هغوی د کارونو لپاره لېست او په کارونو کې د لومړیتوب برنامه لري او پوهېږي چې کوم کار څومره اهمیت لري او په څومره وخت کې یې باید سرته ورسوم.

هغوی مخکې له مخکې په دې اړه فکر کوي چې کوم کار باید په کوم وخت او په څومره وخت کې سرته ورسوي، څو په خپل وخت له ټولو کارونو څخه خلاص شي.

منظم کسان د کارونو له ځنډولو څخه لرې او په ښه ځای کې قرار لري، ځکه هغوی پوهېږي چې څنگه یوه سخته پروژه یا یو سخت کار په کوچنیو مرحلو تقسیم کړي او بیا هره مرحله په خپل وخت سرته ورسوي.

حتی که منظم هم وي، کېدای شي داسې فکر وکړي چې څنگه یوه سخته او غټه پروژه یا کار سرته ورسوي. ممکن زړه ته مو وېره ولوېږي چې رښتیا هم ښه منابع او مهارتونه لری او کنه. خو په دې سربېره را ولاړېږي او هغه کارونه سرته رسوي چې پوهېږي د سرته رسولو وړتیا یې لري او په دې ډول خپل ځان ارام ساتي.

**دریېم- پلان جوړول**

د کارونو ځنډول یا پس سرته رسول یو عادت دی، یعنې داسې چې ستاسې په وجود کې یې ریښې غځېدلې. تاسې نه شی کولای چې هغه په یوه ورځ له منځه یوسی.

عادتونه هغه وخت له منځه ځي چې په دوامداره ډول د هغو له سرته رسولو ځان وساتی. سربېره پر دې تر کومه چې امکان لري له لاندې اصولو څخه گټه واخلی، څو مو د بدو عادتونو پرېښودلو ځواک لا پیاوړی کړي.

۱-ځان ته مو جایزه ورکړئ: د بېلگې په ډول، کله چې غواړی یو کار تر غرمې مخکې سرته ورسوی او پر دې بریالی هم شی، نو یوه خوږه شیریني مو ځان ته جایزه ورکړئ. په یاد ساتی، یو کس چې د خپلو کارونو له سم سرته رسولو څخه څومره خوند اخلي، دا بیا په بل هېڅ شي کې نشته او نه یې اخیستی شي.

د ځان لپاره د کاري ساعتونو هغه امتیازات چې خپل رییس یا مشر ته یې ترلاسه کولای شی، معلوم کړئ. رییس مو تاسې ته ستاسې د کارونو په بدل کې پیسې درکوي چې هغه ته دا هرڅه ډېر ارزښت لري. که کارونه مو سم سرته ونه رسوی، په رښتیا تاسې ځان ته دا تنخوا یا پیسې نه حلالوی.

۲- په یاد لری، هر ورځ مو لومړی هغه کارونه سرته ورسوئ چې تاسې ترې وېرېږی. که مو د کارونو د ځنډولو سبب بې نظمي وي، ځان منظم جوړول در سره مرسته کوي.

۳- د هغو کارونو چې باید سرته یې ورسوی، یو لېست برابر کړئ. په دې توگه کولای شی هر وخت هغه کارونه چې ستاسې د خوښې وړ نه دي، له ټولو مخکې سرته ورسوی.

۴- د کارونو د لېست کولو له برنامې څخه استفاده وکړئ، دا به له تاسې سره مرسته وکړي چې نور مو کارونه پس او له خپل وخت څخه وروسته سرته ونه رسوی.

۵- متې مو بډ وهئ: له ځان نه مو د وخت تکړه او له خپلو کارونو او برنامو یو باخبره استاد جوړ کړی. په دې سره تاسې بیا پوهېږی چې کله او څه وخت مو کارونه سرته ورسوی.

٦- د خپلو موخو لپاره مو وخت وټاکئ. هر کار چې کوی، د سرته رسولو لپاره یې ټاکلی وخت په نظر کې ولری. که دا کار وکړی، نور به مو کارونه له خپل ټاکلي وخت نه ونه ځنډوی.

۷- په یوه وخت کې یوازې یو کار سرته ورسوئ. په یوه وخت کې د څو کارونو له سرته رسولو څخه ځان وساتی. که له کار نه له دې وجې چې سخت دی، د تېښتې لارې لټوی، دا وخت مو د کار د سرته رسولو لاره بدله کړئ. کېدای شي له دې لارې د هغه کار په سرته رسولو بریالي شی.

۸- کار مو په کوچنیو مرحلو تقسیم کړئ، څو مو په دې سره له زړه څخه د کار د سرته رسولو وېره لاړه شي. د یو کار د سرته رسولو لپاره عملي برنامه تاسې ته ډېره گټه کوي.

۹- که امکان لري، لومړی مو د پروژې یا کار څو وړې برخې سرته ورسوئ. حتی که مو د کار د سرته رسولو له لومړیو مرحلو څخه هم نه وي، د دې په سرته رسول داسې حس کوی چې د کار په سرته رسولو کې مو پرمختگ کړی دی. ممکن دا وخت نور د کار له سرته رسولو څخه ونه وېرېږی.

که د کار ځنډولو سبب مو دا وي چې هغه ستاسې خوښ نه دی، لاندې ټکو ته پام وکړئ:

ډېری کسان چې تل یې کارونه ځنډوي او په خپل وخت یې سرته نه رسوي، د کارونو نه خوښېدل یې له ټولو هغو ټکو څخه چې رښتیا دي، ځان لپاره ډېر سخت درولی وي. فکر وکړئ، ښایي دا کار دومره هم بد نه وي لکه تاسې چې فکر کوی.

په یاد لری، هرڅومره مو چې ژر د کارونو ځنډولو عادت د پرېښودو لپاره هڅه وکړی، هغومره مو ژر دا عادت پرېښودلی شی.

## کرنې وزارت: د ځنگلونو د وهلو د مخنیوي لپاره مو پلان جوړ کړی دی

د کرنې او مالدارۍ وزارت وایي، لا هم د ځنگلونو د خپلسري وهلو په تړاو اندېښنې شته، خو د مخنیوي لپاره یې پلان جوړ شوی او ډېر ژر به یې عملي کارونه پیل شي.

د کرنې وزیر نصیر احمد دراني ناامنۍ، داخلي او د سیمې مافیایي کړۍ هغه څه یاد کړل چې په خبره یې د ځنگلونو خپلسرې وهنې ته یې زمینه برابره کړې ده.

هغه وویل، که څه هم ځنگلونه تر ډېره د ځايي خلکو مال دی او هغوی ته د اقتصادي گټې زمینه برابروي، خو وهل یې د ټول هېواد په زیان دي.

دراني اندېښنه وښوده چې داخلي او د سیمې مافیایي کړۍ په سیمو کې له ناامنۍ څخه په گټې اخیستنې، دې ته زمینه برابروي چې ځنگلونه ووهل شي او قاچاق شي، خو دوی یې د مخنیوي لپاره ځانگړی پلان جوړ کړی دی.



ده زیاته کړه، د قاچاق د مخنیوي لپاره به له امنیتي ادارو سره په همکارۍ هغه لارې وتړل شي چې د لرگیو قاچاق پرې کېږي او د ځنگلونو د وهلو د مخنیوي لپاره به له ځايي خلکو سره اقتصادي همکارۍ وشي.

دراني وایي، د پلان له مخې به د هغو سیمو خلکو ته د نیالگیو د تولید زمینه برابره کړو چې شاوخوا ځنگلونه ولري او عایدات یې له هماغو ځنگلونو دي.

دراني زیاتوي: «موږ د دغو سیمو خلکو ته د بېلابېلو ونو تخم ورکوو، دا مرسته هم ورسره کوو چې هغوی یاد تخم وکري، دې ته یې برابر کړي چې د خرڅ شي، نو که کال کې هغوی ۵۰۰ نیالگي برابر کړي او خرڅ شي ترې، که په سل افغانۍ یې هم وپلوري؛ نو ۵۰۰۰۰ افغانۍ کېږي.»

د دراني په خبره، د ځنگل لرونکو سیمو خلکو ته یې اتحادیې هم جوړې کړې او د ځنگلونو د ساتنې ترڅنگ یې د گټې اخیستنې طرز العملونه هم ورته جوړ کړي چې هم یې ساتنه کېږي او هم یې ځینې برخې بیارغول کېږي.

هغه د کونړ ولایت ځنگلونو ته په اشارې سره وویل، یاد ولایت تر ډېره د بې مېوو ونو ځنگلونه لري او اوس ورته پلان جوړ شوی چې د چهارمغزو او ستروسو مصنوعي ځنگلونه پکې رامنځته شي، څو د خلکو اقتصادي وضعیت ورسره ښه او د نورو ځنگلونو د وهلو مخه هم ونیول شي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۵ |
| € | ۸۸ |
| Rp. | ۵۸۷ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۷,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - انقره | 20:30 |
| کابل - استانبول | 20:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily

New Vision, New Journey








چهارشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومي ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د جنوري دویمه | دویم کال | ۳۱۱مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱٦ | ۱٦ | ۱۲ | ۱٦ | ۱۳ |
| -۱۱ | ٦ | ۲ | ۲ | ۳ | -۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۱ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیگر ۰۳:۱۷ | ماښام ۰۵:۵۵ | ماخوستن ۰٦:۰۹


## نړۍ



## شمالي کوریا: که امریکا خپلې ژمنې عملي نه کړي، نوې تگلاره به غوره کړو

۳

## ملگري ملتونه: حوثیان دې د نړیوالو مرستو د وېشلو په بهیر کې د درغلیو مخه ونیسي



ملگرو ملتونو خبرداری ورکړی چې که د یمن حوثي یاغیان د نړیوالو مرستو د وېشلو په بهیر کې د غلاوو او درغلیو مخه ونه نیسي، دغه هېواد ته د خوراکي موادو او نورو اړینو مرستو د رسولو لړۍ به وځنډوي.

د ملگرو ملتونو د خوړو پروگرام «WFP» دغه خبرداری وروسته له هغې ورکړی، چې د دې اداري لهخوا د یوې ترسره شوې سروې پایلې ښودلې چې دغه مرستې مستحقو کسانو ته نه رسېږي.

د خوړو نړیوال پروگرام ویلي، د مرستو د لړۍ په ځنډولو سره به په یمن کې شاوخوا درې میلیونه وگړي اغېزمن شي.


د اسوشیتېډ پرېس اژانس د راپور له مخې، دا یو بې ساری خبرداری دی چې د خوړو نړیوال پروگرام یې ورکوي او هغه د دې ښکارندویي کوي چې فساد په یمن کې د قحطۍ له پراخېدو سره مرسته کړې، هغه هېواد چې څلور کلنې کورنۍ جگړې پکې د نړۍ تر ټولو ناوړه بشري بحران رامنځته کړی دی.

د دغه پروگرام مشر ډېوېډ بېسلي د حوثي یاغیانو مشر عبدالمالک الحوثي ته په یوه استولي لیک کې ویلي، د دوی د اداري له خوا شوې سروې ښودلې چې د یاغیانو تر کنټرول لاندې پلازمېنه صنعا کې یوازې ۴۰ سلنه مستحقو کسانو ته دغه مرستې رسېږي.

په دغه لیک کې بېسلي خبرداری ورکړی چې که په دې اړه په ۱۰ ورځو کې اقدام ونه شي، د خوړو نړیوال پروگرام له دې پرته بله لاره نه لري چې خپلې مرستې چې نږدې له دریو میلیونو وگړو سره کېږي، وځنډوي.

د هغه په وینا، دغه جنایتکاره چلند باید پای ته ورسول شي. د اسوشیتېډ پرېس د راپور له مخې، ځیني یاغي ډلې هغو سیمو ته چې دوی یې دښمنې سیمې بولي، د مرستو رسولو مخه نیسي.

## د روسیې په ماگنیتوگورسک ښار کې چاودنې ۸ تنه وژلي



د روسیې د ماگنیتوگورسک ښار په یوه لوړپوړې ودانۍ کې د گازو د الون د چاودنې له کبله اته تنه مړه شوي او لسگونه کسان په ودانۍ کې بند پاتې دي.

د دغه هېواد د بېړنیو حالاتو وزیر یفگیني زینیخیف ویل، د دغو کسانو د ژغورنې عملیات په موقتي ډول ځنډېدلي، ځکه وېره ده چې په دغو هڅو کې به ښایي د دې ودانۍ نورې برخې هم ړنگې شي.

د دغه هېواد د بېړنیو حالاتو وزارت وایي، د دې ودانۍ ۲٦ اپارتمانونه تخریب شوي چې ۴٦ تنو ژوند پکې کاوه.

ویل کېږي تر ۳۰ ډېر کسان اوس هم تر انبارونو لاندې بند پاتې دي.

د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین هم د اورال په جنوب کې د دې ودانۍ لیدو ته ورغلی او د پېښې له ټپیانو سره یې له نږدې لیدلي.

د روسیې لومړي وزیر دمیتري مدوېدوف د دې پېښې له قربانیانو سره د مرستې لپاره د کمېسیون د جوړېدو سپارښتنه کړې ده.

## «تیکا» تا سه ماه دیگر به کمک‌هایش با شفاخانه افغان - ترک میمنه ادامه می دهد



C★TİKA

T.C. BAŞBAKANLIĞI
TÜRK İŞBİRLİĞİ VE KOORDİNASYON AJANSI BAŞKANLIĞI
MEZAR-I ŞERİF PROGRAM KOORDİNATÖRLÜĞÜ
MEYMENE AFGAN - TÜRK DOSTLUK İL HASTANESİ

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت صحت عامه
فاریاب
شفاخانه ولایتی دوستی افغان - ترک میمنه

قابل توجه !

تاریخ : 2018/12/31

به اطلاع عموم پرسونل محترم شفاخانه ولایتی دوستی افغان – ترک میمنه رسانیده میشود که, قرار داد پیشبرد امورات شفاخانه ولایتی دوستی افغان – ترک میمنه برای سه(3) ماه تمدید گردیده است بنآ پرسونل محترم شفاخانه ولایتی طبق معمول به وظایف شان حاضر گردند.

در پی نشر گزارش آژانس خبری پژواک، مبنی بر ختم قرارداد موسسه تیکا با شفاخانه افغان- ترک در فاریاب، این موسسه تا سه ماه دیگر قرارداد خود را تمدید نموده و از تعهد همکاری هایش خبر داده است.

آژانس خبری پژواک در (۵ قوس) سال روان، گزارشی را از نگرانی منسوبین شفاخانه افغان– ترک فاریاب از ختم قرارداد موسسه تیکا در پایان سال ۲۰۱۸ میلادی داشت.

موسسه تیکا از سال ۲۰۰۵ م تاکنون، همه ساله دو میلیون دالر را به منظور عرضه خدمات صحی رایگان به شفاخانه افغان- ترک این ولایت کمک می کرد.

داکتر سیدقاسم پارسا رئیس شفاخانه افغان- ترک میمنه، با قدردانی از تلاش های مقام های محلی، گفت که در نتیجه تلاش های افراد و نهادهای متذکره، کمک های موسسه تیکا به شفاخانه افغان- ترک به مدت سه ماه دیگر تمدید گردید.

وی، ادامه کمک های موسسه تیکا را برای مردم فقیر فاریاب نهایت مهم و حیاتی عنوان کرده.

وی افزود: «روزانه به طور تخمینی برای یک‌هزار تن در بخش های مختلف، عرضه خدمات صحی رایگان صورت می گیرد.»

موصوف علاوه کرد که موسسه تیکا تعهد سپرده است که تا سه ماه آینده، مانند سابق تمام مصارف شفاخانه افغان- ترک این ولایت را تمویل و ادویه مورد نیاز شش ماهه را به این شفاخانه فراهم می کند.

داکتر محمدنعیم مصمم رئیس صحت عامه فاریاب افزود: «حدود ٦ ماه قبل نیز قرارداد و فعالیت موسسه تیکا ختم گردید و قرار شد که شفاخانه را به وزارت صحت عامه افغانستان تسلیم کنند؛ اما در آن زمان به اساس تقاضای معاون اول ریاست جمهوری، تا پایان سال ۲۰۱۸ م تمدید گردیده بود».

## ژوند


## غواړئ چې ماشومان مو له کتاب سره مینه ولري؟



د اولادونو لپاره مو خوږې او په زړه پورې لنډې کیسې غوره کړئ او د ویده کېدو په وخت کې یې ورته ووایاست. د کیسو لپاره داسې کتابونه ورته وټاکئ چې ښکلي او زړه راښکونکي انځورونه ولري او له کیسې سره بشپړ تړلي وي، څو په اسانۍ سره وکولای شي له کیسې سره اړیکه ورکړي. وخت ورکړئ چې د کتاب له لومړۍ پاڼې پوره معنا واخلي، وروسته ورته دویمه پاڼه واړوئ.

د ماشومانو عمر ته په کتو کتابونه غوره کړئ او هماغه یوه کیسه ورته څو ځله ولولئ. ماشومان د لویانو په څېر نه دي چې له یو ځل کیسې لوستلو ستړي شي، بلکې دوی غواړي چې یوه کیسه ورته بیا بیا ولوستل شي، څو یې په یاد زده کړي. که مو احساس کړه چې ماشومانو ته مو هغه کتاب چې تاسو یې ورته لولی، چندانې خوند نه ورکوي، مه ناهیلي کېږئ! د وخت په تېرېدو سره هغه د کتاب لوستلو له کلتور سره اشنا کېږي. ماشومان مو خپلې خوښې ته پرېږدئ چې د خپل ذوق اړوند کتاب د ځان لپاره غوره کړي، تاسو پرې په زور د کوم ځانگړي کتاب د لوستلو فشار مه اچوئ، کېدای شي هغوی له داسې کتابونو سره مینه ولري چې انځورونه پکې زیات وي یا هم داسې کتابونه چې په پرله پسې توگه کیسې ولري او یا هم بل ډول چې د دوی خوښ وي.

## د لمرگلي زړي او روغتیایي گټې یې



دا چې اوس په هېواد کې د ژمي موسم دی، نو ډېر خلک به مو لیدلي وي چې د وزگارتیا پر مهال د لمرگلي زړي چې په ډېره زیاته کچه اوس له بهر نه را وارېدېږي، خوري. د ډاکترانو په وینا، لمرگلی ډېرې عجیبې ځانگړنې لري او دا ځانگړنې د دغه گل په زړو کې پټې دي. د دوی په وینا، د دغه گل په زړو کې د زړه، پوستکي، سرطان او د مایوسۍ ناروغیو درملیز خواص شته. ډاکټران وایي، لمرگلی باید په خپلو خوړو کې شامل کړو، ځکه لمرگلی ویټامین اې او ورېږ دانې یې په خپل ترکیب کې انټي اکسیډېنټ هم لري. که یو څوک نیمه پیاله د لمرگلي دانې سپینې کړي، نو په دې نیمه پیاله کې شپږ گرامه پروتین او څلور گرامه فایبر موجود دي چې دا دواړه د صحت لپاره خورا اړین دي. د لمرگلي دانې د انسان د بدن ښکلا او د زړه په قوي ساتلو کې هم پوره ونډه لري، د دې ترڅنگ د بدن د مضرو مرکباتو مخه نیسي. په بازار کې د دغه زړو ځانگړي غوړي هم پیدا کېږي چې ډاکټران یې د کارولو سپارښتنه کوي.